# شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

نبي کريم ﷺ فرمايي:
چا چي د نېکۍ پر طرف لارښوونه وکړه؛ نو د هغه له پاره هم د نېکي کوونکي په شان اجر (ثواب) دئ.
رواهُ مسلم (۱۸۹۳)
نبی کریم ﷺ می فرماید:
کسیکه به سوی نیکی رهنمایی کرد، پس برای وی نیز مانند نیکی کننده اجر (ثواب) می باشد.
رواهُ مسلم (۱۸۹۳)
(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د ماليې وزارت

شنبه| د ربيع الثاني ۹-۱٤٤٦ل س/ د تلي ۲۱-۱٤۰۳ل ل/ د اکتوبر ۱۲-۲۰۲٤ز/خلورم کال / ۱۱۸ گنه/ ٤ مخيزه



## سرمقاله

### د ماليې وزارت د تفتيش بهير څومره معياري دئ؟

تفتيش يا پلټنه د ماليې په وزارت کي هغه معيار دئ، چي د نړيوال ستنډرډ له زاويې فعاليت کوي او ټول هغه قوانين او معيارونه، چي بايد پر نړيوالو اصولو برابر وي، ترسره کېږي، خو د پلټني معيار او ارزښت هلته روښانه کېږي، چي اغېز ولري او لاسته راوړنه ئې د منلو وړ وي. د ماليې وزارت د پلټني لوی رياست د پلټني پرمهال اغېزمنتوب، د کار اهميت، د مسلکي کسانو استخدام، لومړيتوب لرونکي پلټونکي موارد او د پلټني ډول او زماني مهالوېش په پام کي نيسي. د پلټني لوی رياست د ماليې وزارت د رهبرۍ په چوکاټ او لارښوونو کي په خپلواکه توگه خپل فعاليتونه طرحه او پلي کوي او هيڅ ډول خپلوي، روابط او نا معياري مسايل په پام کي نه نيسي.
دغه رياست هغه مهال خپل فعاليتونه او لاسته راوړني معياري بولي، چي هدف ئې ترلاسه کړی وي او پايله ئې د مقاماتو او لوړ پوړو مسئولينو لپاره د منلو وړ وي، مغرضانه تحرك پکښې نه وي او يوازي د ماليې وزارت تاکل سوي اصول او مقررات پکښې رانغښتل سوي وي.
د پلټني لوی رياست ټيم د خپلو پلټنو د پيل ترمخه په لومړي سر کي ټول خنډونه او گواښونه، چي د پلټني د مخنيوي او تخنيکي کېدو سبب گرځي له منځه وړي، پلټونکي بنسټونه مخکي له مخکي خبروي، د دغو بنسټونو د پلټلو حجم په پام کي نه نيسي؛ بلکي يوازي د خپلي اصلي موخي د ترلاسه کولو لپاره، چي اصلاحي تطبيقات رامنځته سي، اداره پر معيارونو برابره سي، د فساد مخه ونيول سي، کاري نيمگړتياوي په نښه سي او يوه معياري اداره رامنځته سي. د ماليې وزارت د پلټني لوی رياست پلټونکې کره او ناپيلې پلټنه کوي، کره معلومات او شواهد راټولوي، هر هغه څوک، چي د دوی موخي په ښه توگه ژر ور ترلاسه کړي، مرکې ورسره کوي، پلټونکو ادارو او بنسټونو ته په بشپړ درناوي خپله پلټنه ترسره کوي او بالاخره په هنرمندانه توگه پلټنه ترسره کېږي، چي دغه کار د ماليې وزارت د مشرتابه له غوښتنو او د درناوي د اصولو ساتل ورته لومړيتوب لري. چي د ماليې وزارت د پلټني لوی رياست د پلټني مشري په غاړه لري، د کاغذ پرانۍ يا بيوروکراسۍ په چوکاټ کي له کار کولو ډډه کوي، د پلټونکي اداري يا بنسټ کارونه اسانه کوي او له دغي اداري سره د خپل توان تر حده همکاري کوي. د ماليې وزارت پلټونکي هيځکله په منفي اړخونو پسي نه گرځي، هغه که راپورونه ئې شفاهي او يا ليکنيز وي.
په ټوله کي د ماليې وزارت موخه د ادارو يا پلټونکو بنسټونو له پلټني څخه دا ده، چي دوی قانوني الزامات په پام کي ونيسي، د دغو ادارو پلټنه له دوی سره مرسته کوي، چي د ريسك په مديريت کي بريالي سي، مالي چاپېريال ئې پياوړتيا پيدا کړي او اداره وکولای سي، چي د تقلب او تېروتنو مخه ونيسي. د ماليې وزارت رهبري د ټولو اړوندو ادارو معياري کولو او کاري کولو ته ژمنه ده او په ظرفيت لوړولو کي ئې مناسب امکانات کاروي.

در نبت
اداره

## په کابل کي د "امام ابو حنيفه رح" درېيم ملي او نړيوال نندارتون جوړ سو




په کابل کي د امام ابوحنيفه (رح) درېيم ملي او نړيوال نندارتون د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند، د کانونو او پټروليم وزير الحاج ملا هدايت الله بدري، د صنعت او سوداگرۍ وزير الحاج نورالدين عزيزي، د عامي روغتيا وزير مولوي نورجلال جلالي، د ماليې وزارت د پاليسۍ معين انجنير سلطان محمد زبير، د افغانستان د سوداگرۍ او پانگوني خوني مرستيال محمد يونس مومند، د ا.ا.ا د کابينې يو شمېر نورو غړو، سفيرانو، د دوستو هيوادونو استازو، کورنيو او بهرنيو سوداگرو او پانگوالو په گډون جوړ سو.
دغه نندارتون د افغانستان د سوداگرۍ او پانگوني خوني له خوا د کورنيو توليداتو د ملاتړ او د سيمي له هيوادونو سره د افغانستان د سوداگريزو او ټرانزيټي اړيکو د پراختيا په موخه جوړ سوی دئ، چي (۴۰۰) د کورنيو توليداتو او (۳۰۰) د بهرنيو توليداتو غرفې پکښې نندارې ته وړاندي سوي دي.
د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه نندارتون په پرانيستې ويناکي وويل، چي د افغانستان اسلامي امارت د خصوصي سکټور له پاره د اسانتياوو رامنځته کولو ته ژمن دئ او د بهرنۍ پانگوني له پاره هم خپلي هڅي رواني ساتي. هغه زياته کړه، موږ بهرنيو پانگوالو ته ډاډ ورکوو، چي په افغانستان کي د پانگوني ښه فرصتونه برابر دي. نندارتونونه د گډو محصولاتو د پلور او بازارموندني مهم فرصتونه برابروي.
په دغه نندارتون کي د کورنيو او بهرنيو توليداتو (۷۰۰) غرفې نندارې ته وړاندي سوي دي، چي په هغو کي زموږ د توليداتو ظرفيت نړۍ ته ښودل کېږي او زموږ د توليداتو له پاره غوره بازار رامنځته کېږي.
د صنعت او سوداگرۍ وزير الحاج نورالدين عزيزي په خپلو خبرو کي وويل، چي دغه نندارتون د هيوادونو د توليدي او صنعتي ظرفيتونو د پېژندني له پاره يو ښه فرصت دئ. هغه زياته کړه، چي د دغه نندارتون اصلي موخه د توليداتو او کورني بازار پياوړتيا، توليداتو او محصولاتو ته بازار موندنه او د اسلامي امارت او د سيمي او نړۍ هيوادونو تر منځ د تعاملاتو پراخوالی دئ.

پاته برخه په دوهم مخ کي

## له تېري اداري څخه پر نظام باندي د کورنيو خصوصي بنسټونو د پاتي پورونو(۸۵۰) ميليونه افغانۍ ورکړل سوي دي



د افغانستان اسلامي امارت رهبرۍ له پرېکړي سره سم له تېري اداري څخه پر نظام باندي د يو شمېر کورنيو خصوصي قراردادي لوجستيکي شرکتونو او اشخاصو د پاتي طلباتو، تضميناتو او تأميناتو د ورکړي پروسې له پيلولو را وروسته، تر اوسه پوري د (۳۵) ادارو طلبات، تضمينات او تأمينات تثبيت او تائيد سوي دي.
د تثبيت سويو ادارو له ډلي څخه (۲۱) هغو ادارو، چي د خپلو حوالو راپور ئې له ماليې وزارت سره شريک کړی دئ، له تطبيقاتو وروسته ئې په (۱۴۰۲) کال کي د طلباتو (۱۰) سلنه او په روان (۱۴۰۳)کال کي ئې (۱۵) سلنه برخه، چي په ټوليزه توگه (۸۵۰) ميليونه افغانۍ کېږي ورکول سوي دي.
اوسمهال د ادارو د طلباتو، تضميناتو او تأميناتو د تثبيت او اجراء پروسه په نورمال ډول روانه ده او هغه اداري، چي تثبيت سوي دي، له ماليې وزارت سره د خپلو حوالو د راپور له شريکولو وروسته ئې د طلباتو، تضميناتو او تأميناتو (۱۵) سلنه برخه ورکول کېږي.
د يادوني وړ ده، چي اسلامي امارت کلك هوډ لري، چي له تېري اداري څخه پر نظام باندي پاتي ټول پورونه ورکړي؛ تر څو بېلابېل کورني خصوصي بنسټونه هم له مالي اړخه پياوړي سي او نظام هم د هيڅ کوم لوري پوروړی پاتي نه سي.



د ولايتي مستوفيتونو د ماليه ورکوونکو د خدمتونو او مالياتي حوزو (۸۰) تنو کارکوونکو ته روزنيز پروگرام پيل سو

م ۲



هيواد ته را قاچاق کېدونکې (۴۸۵) ټنه مالگه نيول سوې

م ۲




د بانکونو د اتحاديې له مسؤلينو سره د مالياتي مسايلو په اړه ناسته وسوه

م ۲



تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي

م ۲



مديريت و روانشناسی پول

م ۳




روسيه او افغانستان به د انرژۍ په برخه کي گډي پروژې پلي کړي

م ٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د هرات، نیمروز، فراه، ننگرهار او کندهار ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.
په نیول سویو توکو کي (۱۰۲۴۰) کیلو گرامه مالگه، (۲۲) ټنه د موټرونو رنگ، (۸۰۰۰) کیلو گرامه تشي بوجۍ، (۸۵۰۰) کیلو گرامه نخي تار، (۲۱۲۸) کیلو گرامه نباتي غوړي، (۴۸۱۴) کیلو گرامه چاکلېټ، (۴۰۴۰) کیلو گرامه انساني درمل، (۲۱۵۹) کیلو گرامه رُب، (۱۲۰۰ــ) کیلو گرامه حیواني درمل، (۱۸۱۵) کیلو گرامه شامپو، (۸۵۰) کیلو گرامه ککاو، (۲۰۰) کیلو گرامه بیسکوټ، (۱۰۸) کیلو گرامه وچي شیدې، (۲۰۰) کیلو گرامه د قیلون مواد، (۱۴۰۰) کیلو گرامه لواشک، (۲۲۰) کیلو گرامه د لوښو وینځلو مایع او (۱۳) کیلو گرامه پروټین شامل دي.
یاد نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو لپاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.
د یادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کي دوامداره فعالیت کوي او هیچا ته اجازه نه ور کوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د هرات گمرک ۳۰ تنو کارکوونکو ته له گمرکي چارو سره د بلدتیا په موخه روزنیز پروگرام پیل سو



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د روزونکو له لوري د ساحوي روزنیزو برنامو په ترڅ کي د هرات گمرک ریاست اړوند د تورغونډۍ او روزنک گمرکونو (۳۰) تنو نویو گومارل سویو کارکوونکو ته د گمرکي مسایلو او قوانینو په اړه روزنیز پروگرام پیل سو.
په دغه روزنیز پروگرام کي به د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په موخه په عملي او نظري ډول د گمرکونو قانون، گمرکي کړنلارو، گمرکي بیې ټاکني، تعرفې او گمرکي اظهارلیکونو د ډکولو په اړه گډونوالو ته روزنه ورکړل سي.
یاد روزنیز پروگرام، چي یوه میاشت به دوام ولري، د یادو گمرکونو د کارکوونکو وړتیاوي به لوړي کړي او ورسره به په اړوندو چارو کي لا ډېر ښه والی رامنځته سي.

## د ولایتي مستوفیتونو د مالیه ورکوونکو د خدمتونو او مالیاتي حوزو (۸۰) تنو کارکوونکو ته روزنیز پروگرام پیل سو

د ماليې وزارت د عوایدو او گمرکونو ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم، د مالیه ورکوونکو د خدمتونو (۳۵) تنو او د مالیاتي حوزو (۴۵) تنو کارکوونکو ته د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو، مالیاتي محاسبې او له مالیاتي سیستمونو سره د بشپړې بلدتیا په موخه (۲۳) ورځنۍ رونیز پروگرام پیل سو.
په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کي د ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال مولوي منصور الحق ذاکر، د دې وزارت د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد شاه شاکر، د ولایتي عوایدو د همغږۍ او پراختیا



رئیس مولوي عبدالمجید نحیب الله گډون کړی وو.
د بشري سرچینو رئیس له ټولو کارکوونکو څخه وغوښتل، چي خپلي چاري په پوره ایمانداری او اخلاص سره مخ ته یوسي او په اړوندو برخو کي له هیوادوالو سره نېک چلند وکړي. ښاغلي شاکر ټینگار وکړ، چي تر روزني لاندي کارکوونکي باید له جوړو سویو روزنیزو پرگرامونو څخه په گټې اخیستني سره خپل مسلکي ظرفیتونه لوړ کړي.
د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال دغه شان روزنیز پروگرامونه د کارکوونکو د مسلکي ظرفیتونو د لوړولو له پاره گټور وبلل او زیاته ئې کړه، چي ټول مسئولین دي د اړوندو مالیاتي چارو په برخه کي د هر ډول بې عدالتۍ او فساد مخنیوی وکړي.

## هیواد ته را قاچاق کېدونکې (۴۸۵) ټنه مالگه نیول سوې



د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې له مخې، افغانستان ته د پخې او خامې مالگې واردول په مطلق ډول بند دي.
پر همدې بنسټ، د روان (۱۴۰۳) هـ.ل کال په تېرو شپږو میاشتو کي د هرات، فراه، نیمروز او ننگرهار ولایتونو په گمرکونو کي (۴۸۴) ټنه او (۷۹۴) کیلو گرامه قاچاقي مالگه نیول سوې ده، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.
د یادوني وړ ده، چي اوس مهال د ماليې وزارت له لوري د هیواد په ټولو گمرکونو کي د قاچاقي او ممنوعه توکو څخه په جدي ډول څارنه کېږي او هیچا ته اجازه نه ورکول کېږي، چي توکي په ناقانونه توگه ولېږدوي.

## په هیواد کي د موټرسایکلونو د بسته بندۍ سکټور له مسئولینو سره ناسته وسوه

د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ او د کانونو او صنایعو خوني د رئیس شیرباز کمین زاده په گډون، د موټرسایکلونو د بسته بندۍ سکټور له مسئولینو سره ناسته وسوه.
په دغه ناسته کي د گمرکونو لوی رئیس وویل، چي د افغانستان اسلامي امارت پالیسي دا ده، چي ټولو پانگه والو ته له اصولو سره سم لازمي اسانتیاوي برابري کړي.
ښاغلي سعید د موټرسایکلونو د بسته بندۍ سکټور د هیواد یو له سترو صنعتي سکټورونو څخه یاد کړ او دوی ئې وهڅول، چي په دې برخه کي له کورني تولید څخه گټه واخلي او په هیواد کي د دې سکټور د ودي له پاره په خپله هم د ځینو پرزو د تولید اسانتیاوي برابري کړي.
په دې ناسته کي د موټرسایکلونو د بسته بندۍ سکټور مسئولینو خپلي ستونزي او غوښتني هم شریکي کړې او د ستونزو د حل او د یاد سکټور له فابریکو څخه د لیدني او ارزوني په موخه د گډ پلاوي په استولو او راتلونکي ناستي ته د یاد پلاوي له لوري د راپور په شریکولو پرېکړه وسوه.

## د بانکونو د اتحادیې له مسئولینو سره د مالیاتي مسایلو په اړه ناسته وسوه





د ماليې وزارت د عوایدو لوی رئیس حافظ مولوي شاه حسین حسیني په مشرۍ، د بانکونو د اتحادیې له مسئولینو سره د مالیاتي مسایلو په اړه ناسته وسوه
په دغه ناسته کي د بانکونو اتحادیې له مسئولینو سره په مالیاتي برخه کي د اصولي، پر وخت او شفافو چارو د ترسره کولو، په اړونده برخه کي سته ستونزو ته د مناسبو حل لارو پر رابرسیره کولو او د دواړو لوریو تر منځ د لا ښې همغږۍ د رامنځته کېدلو په تړاو خبري وسوې.
په دې ناسته کي د اړوندو چارو د لا ښه والي په موخه د غونډې د گډونوالو له لوري ستونزي او وړاندیزونه شریک سول، چي ستونزو ته د ښې رسېدني له پاره د عوایدو لوی ریاست او د بانکونو د اتحادیې ترمنځ گډې کاري کمېټې ته دنده وسپارل سوه، چي سته ستونزي او د چارو د لا پرمختگ فرصتونه وڅېړي او د حل مناسبې لاري چارې ئې راتلونکي گډې ناستي ته وړاندي کړي.

### د پاڼه برخي دوام: درېیم ملي او نړیوال نندارتون

د ماليې وزارت د پالیسۍ مرستیال انجنیر سلطان محمد زبیر په خپلو خبرو کي وویل، چي د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنېدو را وروسته، چي د شاوخوا دریو کلونو په موده کي د دولت بودیجه له بهرنیو مرستو پرته له کورنیو عوایدو څخه برابرېږي او ټول هغه مالیات، چي راټولېږي د کونډو او یتیمانو، د کارکوونکو د معاشونو او په پراختیایي چارو کي لگول سوي دي؛ خو سره له دې د ماليې وزارت بیا هم تل هڅه کړې، چي د خصوصي سکټور له پاره اړیني اسانتیاوي رامنځته کړي، چي د مالیاتو کمښت او د مالیاتي جریمو معافیت ئې غوره بېلگي گڼلای سو.
همداراز نوموړي وویل، چي په راتلونکي کي هم پلان لرو؛ څو تر دې لا ډېري اسانتیاوي؛ لکه: د سیستمونو آپډېټ کول، د وارداتي توکو د اسانه تشریح په موخه د سکېنرونو نصبول، د کورنیو تولیداتو له پاره د معیاري لابراتوارونو جوړول او د مالیاتو سیستم غوره والی، چي د سوداگرو په کارونو کي د اسانتیا لامل کېږي، رامنځته کړو.
د یادوني وړ ده، چي د امام ابوحنیفه (رح) درېیم ملي او نړیوال نندارتون د روان کال د تلي میاشتي له (۱۵) مې نېټې څخه پیل او ددغې میاشتي تر (۲۱مې) پوري به د افغانستان د ملي او نړیوالو نندارتونونو په مرکز کي، چي چمن حضوري ته څېرمه موقعیت لري، دوام وکړي. په دغه نندارتون کي خصوصي شرکتونو خپل صنعتي، کرنیز، ساختماني، لاسي صنایع، طبي وسایل، درمل او نور تولیدات په (۷۰۰) غرفو کي نندارې ته وړاندي کوي.

## نتایج امتحان دروس دینی ریاست دعوت و ارشاد وزارت مالیه اعلان شد

ریاست دعوت و ارشاد وزارت مالیه نتایج امتحان دروس دینی کارمندان این وزارت طی مراسمی اعلام نمود.
در این مراسم، مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری وزارت مالیه، مولوی شریف الله حقانی، رئیس انسجام امور ریاست عمومی دعوت و ارشاد وزارت امر به معروف، نهی از منکر و سمع شکایات، مولوی عبدالهادی سیف الخالد، رئیس دعوت و ارشاد وزارت مالیه، مفتی رحم الله عرفان، مدرس ریاست دعوت و ارشاد و شماری از مسئولین دیگر اشتراک داشتند.
معین اداری وزارت مالیه طی سخنانش گفت؛ کسانیکه امر به معروف و نهی از منکر می کنند، از جمله بهترین های امت اسلامی می باشند، پس یقیناً ریاست دعوت و ارشاد از مهمترین ادارات محسوب می شود، زیرا بخاطر اصلاح جامعه، تطبیق قانون اسلامی و جلوگیری از فساد اخلاقی و ترویج ارزش های اخلاقی کار می کند. ما هر کدام مان باید امر به معروف و نهی از منکر کنیم، این یک فریضه است و در قبال آن پاسخگو هستیم.
رئیس عمومی انسجام امور ریاست عمومی دعوت و ارشاد گفت، هدف از تشکیل ریاست های دعوت و ارشاد در ادارات، ایجاد اصلاحات، تطبیق قوانین الهی و احیای سنت و سیرت پیامبر اسلام است. پیامبر که شب و روز به فکر امت خویش بوده از خداوند خواستار هدایت آنها می باشد و در قیامت حتی شفاعت امتیان خویش را می کند، آیا سزاوار اطاعت نیست؟ یقیناً اطاعت و پیروی از پیامبر گرامی اسلام، اطاعت از خدا و اطاعت از خداوند از اثرات و نشانه های ایمان است.
ما باید برای فلاح و کامیابی در دنیا و آخرت از پیامبر گرامی اسلام اطاعت، صورت و سیرت خود را مطابق آنحضرت عیار نماییم. با مردم و مراجعین برخورد خوب نموده و در جستجوی حل مشکل آنها باشیم.
مدرس ریاست دعوت و ارشاد از اشتراک کنندگان در این مجلس اظهار امتنان نموده گفت، بنده واقعی کسی است که از خدا و رسولش اطاعت نموده و شما را به آنچه سود شما است توصیه و از آنچه به زیان شما است منع کند.
سپس نتایج امتحانات اعلان گردیده و به چند تن از کسانیکه بیشترین نمرات را کسب کرده بودند، تقدیرنامه و تحایف اهداء گردید.
مراسم با دعای خیر اختتام یافت.



شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

# مدیریت و روانشناسی پول

سعید رزمنده

...ادامه شماره ۱۱۷

## پول برای پول

شـاید شـما کتـاب پـدر پولـدار و پـدر بـی پـول را خوانـده باشـید چـه نتیجـه یـی از ایـن کتـاب دریافـت کـرده ایـد کیوسـاکی در ایـن کتـاب دربـاره پـدر واقعـی و پـدر خوانـده خـود صحبـت هـای را کـرده اسـت کـه شـاید سـال هـا طـول بکشـد کـه فـردی بـه ایـن سـطح از آگاهـی دسـت یابـد خلاصـه ایـن کتـاب:

- آموزش مالی اهمیت دارد و باید از سنین پایین شروع شود.
- دارایی‌ها باید به جای بدهی‌ها در اولویت قرار گیرند.
- کار کـردن بـرای پـول کافـی نیسـت؛ بلکـه بایـد یـاد بگیریـم چگونـه پـول بـرای مـا کار کنـد.

ناپلئـون هیـل در کتـاب بیندیشـید و پولـدار شـوید مسـاله جالبـی را بیـان مـی کنـد وی زنـده گـی هنـری فـورد را واکاوی کـرده و مـی گویـد کـه چگونـه بـا وجـود تمـام مشـکلات و چالش‌هـا، بـا ایمـان بـه خـود و ایده‌هایـش، توانسـت امپراتـوری بزرگـی بسـازد. وی هـدف ,ایمـان بـه توانایـی هـای خـود و پشـتکار را مبنایـی اصلـی ایـن رشـد دانسـته اسـت اگـر دقیـق ببینیـم اکثریـت شکسـت افـراد در تجـارت از همیـن سـه موضـوع سرچشـمه مـی گیـرد شـما ایـلان ماسـک را مـی شناسـید؟ یـک باشـنده آفریقایـی جنوبـی کـه امـروز ۲٤۰ میلیـارد دالـر سـرمایـه دارد وی از کجـا شـروع کـرد؟ بـا کـدام پـول؟ وقتـی اسـپس ایکـس در ماموریـت هـای فضایـی خـود بیـش از ٦ بـار شکسـت خـورد و ده هـا میلیـارد دالـر ضرر کـرد چـه کـرد؟ نمـی دانیـد؟ وی اولیـن شرکـت خصوصـی شـد کـه موشـک بـه فضـا فرسـتاده اسـت و امـروز امپراطـوری ماسـک را دارد اگر وی آن روز تسـلیم مـی شـد امـروز کسـی وی را نمـی شـناخت امـا وی بـه خـود ایـمان داشـت و امـروز بزرگتریـن تجـارت پیشـه جهـان اسـت و گفتـه مـی شـود تـا سـال ۲۰۲۷ اولیـن تریلیونـر جهـان خواهـد بـود! یادتـان باشـد یـک مقولـه اسـت کـه مـی گویـد" مـردان بـزرگ کسـانی انـد کـه یـا راهـی خواهنـد یافـت و یـا راهـی خواهنـد سـاخت!" امـا مـا ایـن مسـاله را مـی دانیـم کـه سـختـرین قـدم همـان



قـدم نخسـت اسـت در ایـن بخـش مـی تـوان یـادی از کتـاب ثروتمندتریـن مـرد بابـل اثـر جـورج اس کـرد کـه وی در ایـن کتـاب مبانـی رشـد اقتصـادی توسـط پـس انـداز و نحـوه درسـت اسـتفاده از پـول را بیـان کـرده و مـی گویـد هیـچ رشـدی بـدون داشـتن سرمایـه قبلـی امـکان پذیر نیسـت انسـان موجـودی جایـز الخطاسـت و در طـول راه همیشـه دچـار اشـتباهاتی مـی شـود بـرای همین رسـول مبارك (ص) فرمـوده اسـت مسـلمان آیینـه مسـلمان اسـت و در قرآنکریـم نیـز بارهـا اشـاره بـه مشـوره کـردن شـده اسـت. جـك ولـش در کتـاب معروفـش سـود و دیگـر هیـچ رویـدادی را از زمـان کارش در جنـرال الکتریـك بیـان مـی کنـد وی مـی گویـد شرکـت در وضـع بـدی بـود تصمیـم بـر ایـن شـد کـه سـاختار شرکـت تغییـر کنـد و بـه افـراد پاییـن نیـز اجـازه آرایـه ایـده هـا داده شـود وی مـی گویـد ایـن تصمیـم نـه تنهـا شرکـت را دوبـاره بـه پـا کـرد بلکـه سـود شرکـت را چنـد برابـر نیـز کـرد پـس مـا نیـز در مسـیر مدیریـت سرمایـه مـی توانیـم از مشـوره افـراد متخصـص همیشـه بهـره بگیریـم یادمـان باشـد کیوسـاکی را مشـوره پـدر پولـدارش کیوسـاکی کـرد. در ایـن بخـش میتـوان بـه یـک نکتـه کفایـت کنیـم" یـا یـاد بگیریـد پـول را سربـاز خـود بسـازید یـا تـا آخـر عمـر سربـاز پـول باشـید.

### مدیریت مالی

در ایـن بخـش مـا بایـد اولیـت هـای خـود را همیشـه در قـدم نخسـت قـرار بدهیـم مثـلا اگـر در طـول یـک مـاه شـما تنهـا یـک عایـد یـا معـاش داریـد اولیـت بنـدی کنیـد کـه چـه چیـز نیـاز داریـد. راحـت تریـن روش بـرای پیـدا کـردن نیـاز هـای اساسـی اسـتفاده از قیـد بایـد اسـت مثـلا ایـن مـاه بایـد فیـس مکتـب پسـرم را بدهـم پـس فیـس نیـاز اصلـی اسـت. و یـا خریـد مهمـی کـه در طـول همیـن مـاه بـرای خانـه تهیـه مـی کنیـد. در لیسـت خـود بـرای مصـارف دو و سـوم نیـز جـای بگذاریـد و تمایـلات خـود را نیـز ذکـر کنیـد کـه اگـر نتوانسـتید در مـاه هـای بعـدی اقـدام تهیـه کنیـد.

**نکات مهم:**

۱- چك لیست ایجاد کنید
۲- اولیت بندی کنید
۳- درآمد و خرج را اندازه کنید
٤- خرج های ماهانه را لیست کنید
۵- در صورت امکان پس انداز کنید

### زن و پول

آیا ته به حال فکر کرده اید چرا زنان نسبت به مردان بعد اقتصادی بهتری دارند؟

اگـر در تمـام دنیـا بگردیـد شـاید ایـن موضـوع را متوجـه شـوید کـه نحـوه فکـر اقتصـادی زنـان و مـردان خیلـی فـرق دارد بـه گونـه مثـال اگـر مـردی بـرای خریـد بـه یـك دکان بـرود اغلـب اوقـات یـك جنـس یـا بـد یـا متوسـط را آنهـم بـه قیمـت بـالا مـی خـرد امـا زنـان اینگونـه نیسـتند یـا کمـتر رخ مـی دهـد کـه آنهـا بـه ایـن مسـاله دچـار شـوند حتـی در بخـش تحلیـل تکنیـکال در سـطح جهـان زنـان حـرف هـای زیـادی بـرای گفتنـد دارنـد و شرکـت هـای بـزرگ اقتصـادی جهـان ایـن افـراد را بـرای تحلیـل هـای خـود جـذب مـی کننـد جالـب اسـت بدانیـد زنـان جـز اصلـی چرخـه اقتصـادی در جهـان هسـتند بـه گونـه مثـال در خریـد طـلا لبـاس زیـور آلات و غیـره ایـن زنـان هسـتند کـه چـرخ اقتصـاد ایـن صنایـع را بـالا مـی برنـد و در یـك خانـه ایـن زنـان هسـتند کـه نحـوه خـرج پـول را مدیریـت مـی کننـد کتـاب زن و پـول اثـر سـوزان اورمـن ایـن مبحـث را کامـلا توضیـح داده اسـت کـه افـراد موفـق مـی تواننـد بـرای مدیریـت بهـتر سرمایـه خـود همیشـه بـا زنـان خـود مشـوره کننـد.

**نکات مهم در مدیریت پول:**

۱- تهیه لیست خرید
۲- تنظیم بودجه ماهانه
۳- استفاده از اپلیکیشن‌های مالی
٤- خرید در زمان‌های مناسب
۵- اجتناب از خریدهای احساسی
٦- مقایسه قیمت‌ها
۷- کاهش هزینه‌های غیرضروری
۸- بررسی منظم هزینه‌ها
۹- ایجاد درآمد دوم

**خلاصه:**

در ایـن مقالـه بصـورت خلاصـه بـه تمـام بخـش هـای مدیریـت پـول اشـاره شـد باید خاطر نشـان کـرد کـه مدیریت پـول و تجـارت بـا پـول کار سـاده یـی نیسـت و ایـن مقالـه بـرای عمـوم اسـت و شـما بایـد شـخصیت خـود را در ایـن بخـش پیـدا کنیـد مثـلا مـن مدیریـت پـول را بـرای مصـارف خانـه و خانـواده خـود مـی خواهـم و یـا مـن مدیریـت پـول را بـرای تجـارت خـود نیـاز دارم. در کل در ایـن مقالـه بـه منابـع مشـخص مدیریـت پـول اشـاره شـده اسـت کـه افـراد با الهـام گرفتن از ایـن مقالـه و شـناخت شـخصیت خـود و نیـاز بـه دانـش بیشـتر مـی تواننـد بـه آن کتـاب هـا مراجعـه کننـد. در ایـن مقالـه بـه چرایـی ایـن مبحـث پرداختـه شـده و لازم بـه ذکـر اسـت در ایـن مقالـه از کتـاب هـای ذیـل منحیـث منبـع اسـتفاده شـده اسـت:

کتاب "روان‌شناسی پول" نوشته موریس هالی
کتاب "پدر پولدار، پدر بی‌پول" نوشته رابرت کیوساکی
کتاب "بیندیشید و ثروتمند شوید" نوشته ناپلئون هیل
"ثروتمندترین مرد بابل" نوشته جورج اس
"سود و دیگر هیچ" نوشته جك ولش
کتاب "مدیریت مالی"
کتاب "زن و پول" نوشته سوزان اورمن

# اعلانات داوطلبی



### د داوطلبی خبرتیا

د افغانسـتان اسـلامي امـارت د ماليـې وزارت پـر شرايطـو برابـر ټولـو داوطلبانـو تـه بلنـه ورکـوي، چـې (د هـرات، ننګرهـار، خوسـت او نیمـروز ګمرکونـو د سـرخونو د بیارغـوني او فعالولـو پـه پـروژه) کـې چـې تشـخيصيه نمبر ئـې (Rebid-۰۷۵-W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيسـتي داوطلبۍ پـه بڼـه ترسره کيږي، برخـه واخـلي او شرطپانـه ئـې پـه پښـتو او دري ژبـه د فلـش يـا ميمـوري لـه لاري د شرطپانـي لـه شرايطـو او د تدارکاتـو لـه قانـون او طرزالعمـل سره سـم لـه لانـدي ادرس څخـه ترلاسـه کـړي.
ځـای: د ماليـې وزارت د تدارکاتـو رياسـت او د افغانسـتان اسـلامي امـارت د چـارو اداري لـوی رياسـت اړونـد د مـلي تدارکاتـو اداري رسـمي ويـب سـايټ.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (میزان/۲۸/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرګشايي ټاکلې نېټه: د (لړم/ ۱۴۰۳/۸) له غرمې وروسته ۰۲:۰۰ بجې.
د آفر تضمين: يو سل او ديرش زره (۱۳۰۰۰۰) افغاني.
د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه

### اعلان داوطلبی

ریاسـت عمومـی امـلاك دولتـی وزارت مالیـه دو جایـداد ذیـل را بـه شـکل آفـر سربسـته طـور جداگانـه بـه اعـلان داوطلبـی مـی سـپارد.
۱. یـک بـاب تعمیـر دو منزلـه بـه مسـاحت ۳٤۸ مترمربـع دارای ٦ بـاب اطـاق، دهلیـز، تشـناب و آشـپز خانـه واقـع بـرج شـهر آرا مربـوط ناحیـه٤ شـاروالی کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ(۱۰۰۰۰) افغانـی مـدت (۱) سـال. کوردینات(جی.پـی.اس نمـبر) ٦۹,۱٦۱۲٦٤ ۳٤,۵۳۳
۲. یـک بـاب بـلاك نمـبر ۲۲ دارای چهـار بـاب اطـاق، تشـناب و آشـپر خانـه واقـع چهارراهـی سـلیم کاروان منـزل ٦ بـلاك ۱۱ مربـوط ناحیـه٤ شـاروالی کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ(۷۵۰۰) افغانـی مـدت(۱) سـال. کوردینات(جی.پـی.اس نمـبر) ٦۹,۱٦۰۵۵ ۳٤,۵۵۵۹۹
اشـخاص حقیقـی و حکمـی کـه خواهـان بـه کرایـه گرفـتن جایـداد هـای فـوق الذکـر را داشـته باشـند میتواننـد در خواسـت هـای شـان را بعـد از تاریـخ ۱۸/ میـزان/ ۱۴۰۳ الـی ۰۱/ عقـرب/ ۱۴۰۳ بـه ریاسـت عمومـی امـلاك دولتـی تسـلیم نمـوده شرطنامـه را اخـذ نماینـد.
آدرس: سـینما پامیـر تعمیـر۱٤ منزلـه، منـزل۵، مدیریـت عمومـی ارزیابـی قـرار داد هـای مرکـز، شماره های تماس: (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،
تاریخ مجلس داوطلبی: ۰۲/عقرب/ ۱۴۰۳ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### د داوطلبی خبرتیا

د افغانسـتان اسـلامي امـارت د ماليـې وزارت پـر شرايطـو برابـر ټولـو داوطلبانـو تـه بلنـه ورکـوي، چـې (د ماليـې وزارت رسـمي بريښـناليکونو خدمتونـو د تهيـه پـه پـروژه) کـې چـې تشـخيصيه نمبر ئـې (Rebid-۷۹٤-NCS/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخلي پرانيسـتي داوطلبۍ پـه بڼـه ترسره کيږي، برخـه واخـلي او شرطپانـه ئـې پـه پښـتو او دري ژبـه د فلـش يـا ميمـوري لـه لاري د شرطپانـي لـه شرايطـو او د تدارکاتـو لـه قانـون او طرزالعمـل سره سـم لـه لانـدي ادرس څخـه ترلاسـه کـړي.
ځـای: د ماليـې وزارت د تدارکاتـو رياسـت او د افغانسـتان اسـلامي امـارت د چـارو اداري لـوی رياسـت اړونـد د مـلي تدارکاتـو اداري رسـمي ويـب سـايټ.
تـر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (لړم/۰۱/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.
د آفرګشـايي ټاکـلې نېټـه: د (لـړم/ ۱۴۰۳/۹) د سـهار ۱۰:۰۰ بجـې.
د آفر تضمين: شل زره (۲۰۰۰۰) افغاني.
د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

### اعلان داوطلبی

وزارت مالیـه امـارت اسـلامی افغانسـتان از تمـام داوطلبـان واجـد شرایـط دعـوت مـی نمایـد تـا در داوطلبـی (پـروژه تـدارک تجهیـزات و رجنـت هـای لابراتـوار هـای مرکـزی گمـرکات، وزارت مالیـه) دارای نمـبر تشـخیصیه (Rebid- ۸۰۲-G/۱٤۰۳/MOF) کـه بـه روش داوطلبـی بـاز صـورت میگیـرد اشـتراک نمـوده و شرطنامـه را بـه لسـان دری و پشـتو از آدرس ذیـل مطابـق شرایـط شرطنامـه، قانـون و طرزالعمـل تـدارکات عامـه اجـراء میگـردد بدسـت آرنـد.
تاریـخ مشـخص جلسـه قبـل از داوطلبـی: تاریـخ ۲/ عقـرب/۱٤۰۳ سـاعت ۱۱:۰۰ قبـل از ظهر میباشـد.
تاریـخ مشـخص آفرگشـایی: تاریـخ ۱۰/عقـرب/۱٤۰۳ سـاعت ۱۰:۰۰ قبـل از ظهـر میباشـد.
تضمین آفر: به مبلغ ۲۵,۰۰۰ (بیست و پنج هزار) افغانی میباشد.
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

### د داوطلبی خبرتیا

د افغانسـتان اسـلامي امـارت د ماليـې وزارت پـر شرايطـو برابـر ټولـو داوطلبانـو تـه بلنـه ورکـوي، چـې (د ماليـې وزارت د جنراټورونـو لپـاره د تېلـو نـوي پمـپ د رغونـې پـه پـروژه) کـې چـې تشـخيصيه نمبر ئـې (Rebid-۸۵٦-W/۱٤۰۳/MOF) دئ او د داخـلي پرانيسـتي داوطلبـۍ پـه بڼـه ترسره کيږي، برخـه واخـلي او شرطپانـه ئـې پـه پښـتو او دري ژبـه د فلـش يـا ميمـوري لـه لاري د شرطپانـي لـه شرايطـو او د تدارکاتـو لـه قانـون او طرزالعمـل سره سـم لـه لانـدي ادرس څخـه ترلاسـه کـړي.
ځـای: د ماليـې وزارت د تدارکاتـو رياسـت او د افغانسـتان اسـلامي امـارت د چـارو اداري لـوی رياسـت اړونـد د مـلي تدارکاتـو اداري رسـمي ويـب سـايټ.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (میزان/۲۸/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.
د آفرګشايي ټاکلې نېټه: د (عقرب/ ۱۴۰۳/۰۷) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمين: شل زره (۲۰۰۰۰) افغاني.
د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.

د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

SHTAMANI شتمني
اوونیزه

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)






# روسیه او افغانستان به د انرژۍ په برخه کې ګډې پروژې پلي کړي

د تاس – TASS په نوم روسي خبري اژانس د مسکو غونډې له جریان څخه د افغانستان په اړه (۱٤) بېلابېل راپورونه خپاره کړي دي، چې د افغانستان په هکله ئې نږدې هر اړخ په یوه ځانګړي راپور سره بیان کړی دئ. د راپورونو له دې لړۍ څخه په لومړي اقتصادي راپور کې د روسیې د بهرنیو چارو وزارت د یوې بیانیې په حواله لیکل سوي دي، چې د انرژۍ په برخه کې به افغانستان او روسیه دواړه په ګډه پروژې پلي کړي. یاد روسی وزارت وایي، چې دواړو خواوو پر دوو اړخیزو ګټو؛ سیاسي، سوداګریزو او اقتصادي همکاریو ټینګار وکړ.

" افغانستان او روسیې پر دوو اړخیزو ګټو، سیاسي، سوداګریزو او اقتصادي همکاریو ټینګار وکړ.
روسیې له لوېدیځ څخه غوښتي دي، چې د افغانستان غصب سوې شتمنۍ دي بېرته ورکړل سي او بندیزونه دي ئې لیري سي.
د کازان غونډې ته د اسلامي امارت ور بلل په بریکس هیوادونو پوري اړه لري. "

خبر زیاتوي، چې دا ډول څرګندوني د روسیې د بهرنیو چارو د وزیر سرګي لاوروف او د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو د وزیر ښاغلي امیرخان متقي صاحب ترمنځ د مسکو د شېړمې غونډه په یوې څنډه کې تر لیدني وروسته سوي دي. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت زیاته کړې، چې




په دې لیدنه کې دواړو خواوو د مسکو او کابل ترمنځ د دوه اړخیزو همکاریو په اړه خبري وکړې. د تاس خبري اژانس په یوه بل اقتصادي راپور کې راغلي دي، چې لاوروف له لوېدیځ څخه غوښتي دي، چې د افغانستان غصب سوې شتمني دي بیرته ورکړل سي او بندیزونه دي ئې ایسته سي. سرګي لاوروف په مسکو کې د افغانستان د موضوع په اړه په یوه غونډه کې داسي بیان کړی دئ: «موږ یو ځل بیا له لوېدیځو ملکونو څخه غواړو، چې د افغانستان له جګړې وروسته د بیارغوني مسؤلیت پر غاړه واخلي، بندیزونه لیري کړي او د کابل غصب سوې شتمني بیرته ورکړي.» د راپورونو په دې لړۍ کې په یوه بل راپور کې دا ټکي هم واضح سوی دئ، چې وایي د کازان غونډې ته د اسلامي امارت بلنه په بریکس ـ BRICS هیوادونو (برازیل، روسیه، هندوستان، چین او سوېلي افریقا) پوري اړه لري. دا خبره راپور د افغانستان له پاره د روسیې د ولسمشر د ځانګړي استازي ضمیر کابلوف له خولې رانقل سوې ده. د غونډې د جریان نور راپورونه د افغانستان پر ډیپلوماټیکو اړیکو، د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزې، بشري مرستو، خوراکي توکو او داسي نورو برخو باندي راګرځي.

# IEA Pays off Debts 850 mln Afs From Remaining Loans of Private Domestic Bodies Borrowed by Previous Authority - MoF



According to the decision of the leadership of IEA, after starting the process of payment of remaining claims, guarantees and guarantee fees of a number of domestic private contracting logistics corporations and individuals on the Islamic Emirate of Afghanistan (IEA) from the previous authority; the claims, guarantees and guarantee fees of 35 bodies have been confirmed and approved so far. From the enlisted 21 approved agencies, which have shared their transferring report with MoF, after the implementations, 10% and 15% of claims paid in 1402 and 1403 respectively. However, the aforementioned amounts of percentages reach to 850 million Afs totally. MoF affirms that the process of approving and executing the claims, guarantees and guarantee fees of the bodies is accomplished normally. The 15% claims, guarantees and guarantee fees of the authenticated bodies will be paid, in case they share transferring report with MoF. Notably, IEA is committed to pay all the debts that had been borrowed by the previous authority. In result, various domestic private bodies are financially empowered and IEA may not remain indebted to any firm or body, indeed.

# Officials Vow 'Not to Spare Any Efforts' for Tackling Illicit as Contrabands Seized, Smugglers Arrested



Mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs of MoF seized a large amount of contrabands in different areas of Herat, Farah, Nimroz, Kandahar and Nangarhar provinces during last week, which the contrabandists wanted to confidentially bring to Afghanistan. Among the seized contrabands are 10,240kg of salt, 22 tons of car paint, 8,000kg of bags/ parcels, 8,500kg of cotton thread, 2,128kg of vegetable oil, 4,814kg of chocolate , 4,040kg medicine, 2,159kg tomato paste, 1,200kg veterinary medicine, 1,815kg shampoo, 850kg cocoa, 200kg biscuits, 108kg milk powder, 200kg of hookah's material, 1,400kg of fruit leather or fruit-roll, 220kg of dishwashing liquid and 13kg of protein. The contrabands and the accused persons have been handed over to the relevant customs for further proceedings. It is worth mentioning that the mobile surveillance staff of MoF struggles continuously throughout Afghanistan and does not permit anyone to either mport or export illicit.

## د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک
tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.